# هغه حقوقي نوښت د لومړۍ کلیزې د اعلان په مناسبت د مدني ټولنې ګډه اعلامیه چې له مخې یې د ښځو پر وړاندې د هر ډول توپیري چلند د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) لاندې، افغانستان حساب ورکوونکي و ګڼل شي

۲۵ سپټمبر ۲۰۲۵

پر کال مخکې، د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر پر ۲۵مه، آسترالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ هیوادونو اعلان وکړ چې افغانستان د CEDAW پر بنسټ د ښځو او نجونو له حقونو څخه د سرغړونې له امله مسؤل ګرځوي. دا نوښت د دې پوره وړتیا لري چې د عدالت د نړیوالې محکمې (ICJ) پر وړاندې یوه قضیه پایلې ته ورسوي، دا به یو تاریخي ګام وي چې طالبان به د ښځو د حقونو سلبولو او د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو د نقضولو اړوند ځواب ویلو ته اړباسي.

د څلورو هیوادونو د اعلان په برخه کې، جرمني د ښځو د حقونو له افغان مدافعینو سره یو لړ مشورې تنظیم کړې؛ لومړی ځل په مجازي ډول د ۲۰۲۴ کال په سپټمبر کې، او دویم ځل په برلین کې د ۲۰۲۵ کال په مارچ کې مخامخ مشورې ترسره شوې. له دویم ځل مشورو وروسته د افغانستان د بشر حقونو د ټولنې [پیغام](#) روښانه او ثابت و. دوی د پروسې پر مخکښو هیوادونو غږ وکړ چې: له بېلابېلو افغان ټولنو سره په خونديي او معنا لرونکو مشورو کې خپلې ښکیلتیا ته دوام ورکړي، په دې پروسه کې د افغان میرمنو ټولشموله ګډون تضمین کړي، شفافیت ته پکې ژمنتیا موجوده وي، او همدا راز، د پروسې اړوند پوهاوی زیات او د سویلي هیوادونو او هغو هیوادونو په ګډون چې اکثریت پکې مسلمانان دي، د پروسې لپاره پراخ ملاتړ رامنځته کړي.

د تېر کال په اوږدو کې، په افغانستان کې جنسیتي سرغړونو ته د غبرګون ښودلو اړوند د پام وړ پرمختګونه شوي دي. د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۴مه، د اروپایي اتحادیې محکمې (CJEU) پریکړه وکړه، چې د افغانو میرمنو پر وړاندې د طالبانو د تبعیضي اقداماتو ټولیز اغیز د ځورونې مترادف دی، نو ځکه د کډوالو په توګه د دوی پېژندنه یوازې د دوی د جنسیت او تابعیت پر بنسټ توجیه کوي. د ۲۰۲۵ کال په جون کې، د ملګرو ملتونو (CEDAW) یا ښځو سره د هر ډول تاوتریخوالي د له منځه وړلو د کنوانسیون کمېټې، په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو له واکمنۍ راوروسته د دې ترون د لوري په توګه د افغانستان لومړۍ بیا کتنه ترسره کړه. په دې بیاکتنه کې، د CEDAW کمیټې له بالفعل چارواکو څخه وغوښتل چې د ښځو د حقونو لپاره د اساسي قانون له خوا منل شوي او تقنیني محافظتونه اعاده کړي، د تبعیض ضد قوانین بیرته نافذ کړي، او د ICC او ICJ په ګډون د ځواب ویلو له نړیوالو میکانیزمونو سره بشپړه همکاري وکړي.

دې کمېټې دا غوښتنه هم وکړه چې: د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي او جنسیتي ځورونې څخه د راوتلو کسانو لپاره دې درملنې او د خسارې جبران ورکړل شي، د لا نورو سرغړونو د مخنیوي لپاره دې سمدستي اصلاحات رامنځته شي، سیمه ییز لوبغاړي دې تبعیضي چوکاټونو ته مشروعیت نه ورکوي، او په جلا وطنۍ کې دې د افغان مدني ټولنې او د ښځو د حقونو د ډلو ملاتړ وهڅول شي.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د جولای پر ۸مه نېټه، نړیوالې جنایي محکمې (ICC) د روم د اساسنامې د ۷ (۱) (h) مادې له مخې، د جنسیتي ځورونې اړوند د بشریت ضد د جرم له امله (د طالبانو د ستر رهبر) هیبت الله اخوندزاده، او (د طالبانو د قاضي القضات) عبدالحکیم حقاني د نیولو حکم صادر کړ. د ICC د مطبوعاتي اعلامیې له مخې، دا تورونه د طالبانو لخوا د ښځو، نجونو او "نورو هغو کسانو د په نښه کولو پر بنسټ ؤ، چې د

جنسیت، جنسیت پیژندني یا څرګندونې اړوند د طالبانو پالیسۍ سره یې مطابقت نه درلود، او په سیاسي برخه کې د هغو اشخاصو د په نښه کولو له امله، چې د نجونو او ښځو ملاتړې ګڼل شوي دي".

دا اقدامات ښځو سره د هر ډول تاوتریخوالي د له منځه وړلو کنوانسیون CEDAW پر بنسټ د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ د یوې قضیې وړاندې کولو هڅې بشپړوي، چې د بشر حقونو له نړیوال قانون څخه د سرغړونې له امله د دولت په کچه مسؤلیت باندې تمرکز کوي.

د آسترالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ د یاد اعلان په کلیزه کې، موږ د کارپوهانو د کاري ډلې (EWG) غړي پر دې ځلورو هیوادونو غږ کوو چې: (۱) دې مهم نوښت سره خپله ژمنتیا پیاوړې کړي؛ (۲) چې د رواني پروسې اړوند د لا نور شفافیت په راوستولو سره د دوی خبرې په عمل بدلې کړي؛ او (۳) له افغان مېرمنو، ژوندي پاتې شویو، او مدني ټولنې سره معنا لرونکې ښکېلتیا دوامداره کړي. په داسې حال کې چې لا هم افغانې مېرمنې د تاوتریخوالي او محدودیتونو د ډېریدو له امله کړیږي، موږ اندیښنه لرو چې د طالبانو د عادي کېدو رجحان په زیاتېدو دی.

د پروسې په اوږدو کې د شفافیت زیاتوالی به پر دې نوښت د باور جوړولو په برخه کې پرله پسې مرسته وکړي. سربېره پر دې، په افغانستان کې د ښځو د حقونو بېرته پر ځای کول، د ښځو بشري حقونو او کرامت ته د ژمنو متنوعو شریکانو د پیاوړي اتحاد، همغږۍ او اصولي عمل ته اړتیا لري.

په پای کې، موږ د سویلي هیوادونو او د اسلامي همکارۍ سازمان (OIC) د غړو هیوادونو په ګډون له نورو دولتونو څخه هم په کلکه غواړو چې د ICJ له نوښت سره یوځای شي او ملاتړ یې وکړي. د ICJ د احتمالي قضیې لپاره د نړیوال ملاتړ زیاتوالی به، په داسې وخت کې چې دوی زیاته اړتیا ورته لري، په افغانستان کې مېرمنو او نجونو ته د هیلې پیاوړی پیغام ورکړي.

د عدالت په نړیواله محکمه (ICJ) کې د افغانستان لپاره د احتمالي قضیې/قضیو اړوند د کارپوهانو کاري ډله د افغانانو په مشرۍ یو فورم دی، چې د مدني ټولنې فعالان، حقوقي کارپوهان، د ژوندي پاتې شویو مدافعین، او د بنسټونو مشران سره یوځای کوي. دا ډله د ستراتیژیک او اصولي ګډ کار د همغږۍ کولو هڅه کوي، چې له اوسنیو یادو پیلونکو هیوادونو سره راتلونکې قضیه/قضیې او وکالت پیل کړي، قانوني او دفاعي توکو ته وده ورکړي، او له عامه پیغام رسولو څخه تر قانوني اجراآتو پورې د قضیې/قضیو اړوند پر پرېکړه کولو باندې اغیز وښندي.

همدا راز د دې ډلې موخه دا ده چې، د اغیزمنو ټولنو غږونه لوړ کړي، د عدالت او حساب ورکونې لپاره دوامدار ملاتړ رامنځته کړي، په ځانګړې توګه د مېرمنو، نجونو او نورو محرومو ډلو لپاره، او د افغانستان اړوند د پراخې بین المللي حساب ورکونې له هڅو سره همغږي دوامداره کړي.

د دې سند د ټولو لاسلیک کوونکو بشپړ لېست لپاره، مهرباني وکړئ انګلیسي متن ته مراجعه وکړئ.